| | | |
|---|---|---|
| جمهورية مصر العربية<br>وزارة الأوقاف | لغة البشتو | ٩ ذوالقعدة ١٤٤٠هـ<br>١٢ يوليو ٢٠١٩م |

(١)

## د ټولنۍ عمومي حقوق او آداب او د تمدن په پرمختګ جوړښت او آرامۍ باندي د هغي اغیزې

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کي فرمایلي: **« قُلۡ إِنَّنِي هَدَىٰنِي رَبِّيٓ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ دِينٗا قِيَمٗا مِّلَّةَ إِبۡرَٰهِيمَ حَنِيفٗاۚ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ»** ژباړه:« [ای محمده (ص)!] وواېه: زما رب په یقیني توګه ما ته سمه لاره راښودلې ده. بیخي صحیح دین چي په هغه کښي کوم کوږوالی نشته، د ابراهیم ( ع) مسلك چي هغه یوه لوري ته په متمایل کېدو غوره کړی ؤ، او هغه له مشرکانو څخه نه ؤ»، او زه ګواهي ورکوم چي نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چي هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چي زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، په حدیث شریف کي فرمایي: الله تعالی ماته د نیکۍ ادب را په برخه کړی دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چي د قیامت تر ورځي پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

اسلام په پوره او بشپړ نظام سره راغلی چي د انسان اړیکه د الله تعالی او د ټولي نړۍ د خلکو سره تنظیموي، او اسلامی شریعت د عمومي ادابو او نظام څخه ډک دی، چي د ټولني په پرمختګ او آرامۍ کي ونډه اخلي، لدي جملي څخه: د اجازي غوښتلو آداب دي: اسلام د اجازي غوښتل مشروع کړي دي او د اسلامي ادابو له جملي څخه یي ګرځولي، چي د ټولني هر وګړي ته خپل خصوصیت او ځانګړتیا ورپه برخه کوي، لکه چي الله تعالی فرمایي:« **يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَدۡخُلُواْ بُيُوتًا غَيۡرَ بُيُوتِكُمۡ حَتَّىٰ تَسۡتَأۡنِسُواْ وَتُسَلِّمُواْ عَلَىٰٓ أَهۡلِهَاۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ»** ژباړه:« ای

مؤمنانو! له خپلو کورونو څخه پرته نورو کورونو ته تر هغه پوري مه ننوځئ چي اجازه تر لاسه نه کړئ او پر کورنۍ باندي سلام وا نه چوئ. دا کړنلاره ستاسي لپاره ډېره ښه ده، ښايي چي تاسي دې ته پاملرنه وکړئ»، او پيغمبر صلی الله عليه وسلم مونږ ته د اجازي غوښتلو ادب او طريقه ښودلي ده، او هغه دا چې په لومړي کې څوک چې اجازه غواړي بايد په سلام سره پيل کړي، او خپل نوم ووايي، يوه ورځ نبي کريم صلي الله عليه وسلم په کور کي وو او يو سړي د هغه نه د ننه وتلو اجازه وغوښتله او داسی يي وويل: آيا دننه درشم؟ نو پيغمبر صلی الله عليه وسلم خپل خادم ته وويل: دغه سړي ته ورشه او د ننوتلو اداب ورته ورزده کره، او ورته ووايه چې په اول کي دي السلام عليکم ووايی، او بيا دی ووايي: چې آيا اجازه ده کورته داخل شم؟، نو هغه سړي هغه څه چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم وفرمايل واوريدل، او وويل:السلام عليکم، ايا اجازه ده کور ته ننوځم؟ بيا پيغمبر صلی الله عليه وسلم هغه ته اجازه ورکړه او هغه کور ته وردننه شو، جابر رضي الله عنه وايي: پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته ورغلم او دروازه می وټکوله، نو وفرمايل: دا څوک دی؟، ما وويل: زه، وی فرمايل: زه، زه! داسی ګومان کيده چې دا طريقه يي بده ګڼلي وه.

ځيني نور د اجازی غوښتلو د ادابو څخه: د سترګو ساتل دي چې د کور دننه نظرکولو څخه ډډه وکړې او د چا دروازی ته مخامخ نه اودريدل، پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايی: اجازه غوښتل يواځي د نظر اړولو لپاره دی، او د سعد بن عباده رضي الله عنه څخه روايت دی چې هغه يو ورځ پداسي حال کې اجازه وغوښتله چې مخامخ دروازي ته ولاړ وو، نو پيغمبر صلی الله عليه وسلم هغه ته وويل: پداسي حال کې چې دروازي ته مخامخ ولاړ يي اجازه مه غواړه، روايت دی چي کله پيغمبر صلی الله عليه وسلم غوښتل د يو چا کور ته د ننوتلو اجازه واخلي هيڅکله به

دروازي ته مخامخ نه اودريدلو، بلكي د دروازي ښي يا چپ اړخ ته به اودريدلو او اجازه يي غوښتله او يا بيرته راګرځيدلو.
او ځيني نور عمومي آداب چې اسلام د هغي هڅونه کړې: د لارو او د عمومي ځايونو آداب دي، اسلام لاري ته حقوق ايښي دي چې بايد پر ځاى شي، څکه چې پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايي: د لارو په سر د ناستى نه ډډه وکړئ، وويل شول: اى د الله رسوله ولي بايد د لاري په سر کينه نو پداسي حال کې چې مونږ خبرى کوو يعني کوم زيان لرونکى کار نه ترسره کوو، پيغمبر صلى الله عليه وسلم وفرمايل: که د ناچاري نه لاري په سر کيانستي نو د هغي حق اداء کړئ،وويل شو حق يي څه دى؟ وفرمايل: د سترګو ساتل د نامحرمو د ليدلو څخه، د نورو د ازار او زوروني نه لاس اخيستل، سلام ته ځواب ورکول، او په نيکيو باندى امر کول او د منکراتو څخه منعه کول.، پيغمبر صلى الله عليه وسلم په بل حديث کې فرمايي: ايمان څو اويا يا څو شپيته څانګي او برخې لري، چې په هغه کې غوره د کليمي ويل او ټيټه کچه باندى د يو زيان رسوونکي شي لري کول د لارى د سر څخه دى، او حيا د ايمان د برخو له جملى څخه دى، نو لازمه ده چې کله يو څوک د عمومي ساحو اولارو څخه ګټه پورته کوي خپل غږ لوړ نکړي، او يا په لوړ غږ خبري ونکړي، او نه بايد په اخلالونکې غږ وخاندي، او نبايد خپل کثافت د لاري پر سر واچوي، بلکه بايد هغه پخپلو مخصوصو ځايونو کې واچوي، بلکي بايد هر زيان رسوونکى توکى د لارى د سر څخه لرى کړي، او لاري بايد بندى نکړي او نبايد په نظر اچولو او يا بدو الفاظو او ناوړه حرکاتو باندى د تيريدونکو د ازار او زوروني لامل شي.
او ځيني نور د آدابو څخه: د نظافت او پاکى آداب دي، اسلام نظافت او د بدن، جامو، د اوسيدو ځاي بشپړه پاکي د شريعت د مهمو او نه بيليدونکو برخو څخه ګرځولى دى، په هغه ډول سره چې د حال او د انساني کړنو او مدني ارزښتونو مناسب وي، نو پدى اساس اسلام په يو شمير آدابو او

کړنو هڅونه کوي چې د انسان د نظافت پاکی او ښایست لامل ګرځي او هیڅوک  د هغه نه کرکه نکوي، الله تعالی هغه مسلمانان ستايلي چې د خپل ځان په نظافت او باطني او ظاهري پاکۍ باندي هڅه کوي، لکه چې فرمايي:**«إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ »** ژباړه:« د الله هغه خلك خوښيږي چې له بدۍ څخه لاس واخلي او سپېڅلتياغوره کړي»، او همداسی پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمايي:«پاکي د ایمان نیمه برخه ده.» پیغمبر صلی الله علیه وسلم یو ببر سړۍ ولیده چې ویښته پري خواره واره پراته ووو وفرمايل: ایا دی سړي کوم شی پیدا کړی ندی چې په هغه خپل ویښته راټول کړي؟، او بل سړۍ يي ولید چې ناپاکه جامي پرتن وو، وفرمايل: ایا دي سړي اوبه ندي پیدا کړي چې په هغه خپل جامي وينځلي واي؟.
همداسی پیغمبر صلی الله علیه وسلم د غاښونو پرمينځلو هڅونه کړی ده ترڅو د خولي د بد بوي سبب نشي، او نوروته زیان لامل نشي، لکه چې فرمايي: که زما په امت او خلکو مشقت نه راتلو نو حتما به مي په مسواک کولو په هر لمونځ کې په هغو امر کولو.
او ځیني نور د آدابو څخه هم: د خبرو کولو آداب دي: ځکه وینا او خبري د پیژندني او د مفاهیمو د تصحیح کولو وسیله ده، په واقعیت کې اسلام د خبرو اترو دروازه د ټولو خلکو ترمنځ پرانستی ده، ترڅو وکولای شي پرته له کوم سختی او قید نه لاربښوني ته ورسیږي، لیکن خبري باید د طعني، عیب لټوني مسخره کول او د نورو دټیټ ښودني لپاره نه وي، الله تعالی فرمايي:**« وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ»** ژباړه:« او له خلکو سره په داسي ډول مباحثه وکړه چې ډېره غوره وي.»، او په بل ځاي کې فرمايي:**« وَقُل لِّعِبَادِي يَقُولُواْ ٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُۚ إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ يَنزَغُ بَيۡنَهُمۡۚ إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ كَانَ لِلۡإِنسَٰنِ عَدُوّٗا مُّبِينٗا»**ژباړه:« او [اې محمده (ص)!] زما (مؤمنو) بندګانو ته ووایه چې (خلکو ته) هغه څه وایاست چې ډېر ښه وي. په اصل کښي دا شیطان دی چې د انسانانو په منځ کښي د فساد اچولو

هڅه کوي، حقيقت دا دی چي شيطان د انسان ښکاره دښمن دی» او پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايي: هيڅکله مسلمان طعنه ورکوونکي، نفرت خپرونکي، بدکار، او پست فطرته نه وي، نو بايد خبری اتري په ښه او غوره او د پوهي په ستونو ولاړ بيطرفی او د حال سره سم وي.

او بل دا چي خبری د سمون او دقت څخه مخکي بايد ونه ويل شي، الله تعالی فرمايی: **« يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن جَآءَكُمۡ فَاسِقُۢ بِنَبَإٖ فَتَبَيَّنُوٓاْ أَن تُصِيبُواْ قَوۡمَۢا بِجَهَٰلَةٖ فَتُصۡبِحُواْ عَلَىٰ مَا فَعَلۡتُمۡ نَٰدِمِينَ»** ژباړه: « اې مؤمنانو**!** که کوم فاسق تاسي ته له کوم خبر سره راشي، نو تاسي (د خبر په اړه) پلټنه او تحقيق وکړئ، هسي نه چي کومي ډلي ته په ناپوهۍ سره ضرر ورسوئ او بيا پخپلو کړو پښېمانه شئ»، پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايي: دقت او فکر کول د الله له لوری دی او بيړه د شيطان له لوري، او همداسی فرمايي: فکر کول په هر څيز کي ښه دی مګر د آخرت په کارونو کي، او فرمايي: همدا دروغ انسان ته بسنه کوي چي هرڅه اوری هغه نورو ته ورسوي.

او ځيني نور د آدابو څخه: د ځيني شايعاتو نه خپرول دي، ځکه د هغه په نقلولو سره د هغي په خپرولو کي مرسته کول دي، ځکه کله چي شايعي ژبي تکراري کړي او غوږ ورته ونيول شي او زړونه هغه ومني او تصديق يي کړي نو ډير خپريږي، الله تعالی فرمايي: **« إِذۡ تَلَقَّوۡنَهُۥ بِأَلۡسِنَتِكُمۡ وَتَقُولُونَ بِأَفۡوَاهِكُم مَّا لَيۡسَ لَكُم بِهِۦ عِلۡمٞ وَتَحۡسَبُونَهُۥ هَيِّنٗا وَهُوَ عِندَ ٱللَّهِ عَظِيمٞ»** ژباړه: « (لږ ځير شئ، په هغه وخت کي تاسي څنګه سخته غلطي کوله) چي کله ستاسي له يوې ژبي څخه بلي ژبې ته دغه درواغ، پرله پسې نقل کول او تاسي په خپلو خُولو سره هغه څه ويل، چي د هغه په باب تاسي څه علم نه درلود. تاسي دا يوه عادي خبره ګڼله، په داسي حال کښي چي د الله په وړاندي دا ډېره لويه خبره وه»، او پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايي: څوک چي په خدای او د قيامت په ورځ ايمان لري خپل ګاونډي نه زوروي، او څوک چې په الله او د آخرت په ورځي ايمان لري

میلمه ته دی احترام او اکرام وکړي، او څوک چې په الله او د قیمات په ورځې ایمان لري نو نیکه خبره دی وکړي او یا د چپ پاتي شي.
او ځیني نور د عمومي آدابو څخه چې اسلام رواړي: په کراره خبری کول دي، په دی معنی چې انسان د هغه چا په حضور کې چې د هغه نه مشر دی خپل غږ د عادي حالت څخه اوچت نکړي، د لقمان حکیم په وصیت نامو کې داسی راغلي ځنګه چې الله تعالی کیسه کوي: **« وَٱقۡصِدۡ فِي مَشۡيِكَ وَٱغۡضُضۡ مِن صَوۡتِكَۚ إِنَّ أَنكَرَ ٱلۡأَصۡوَٰتِ لَصَوۡتُ ٱلۡحَمِيرِ»** « خپل تګ کې میانه روي غوره کړه او خپل غږ لږ ټیټ کړه، له ټولو اوازونو څخه ډېر بد اواز د خرو وي.»، الله تعالی د هغه چا ستاینه کوي چې خپل غږ نه پورته کوي په ځانګړي توګه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وړاندي، لکه چې فرمايي: **« إِنَّ ٱلَّذِينَ يَغُضُّونَ أَصۡوَٰتَهُمۡ عِندَ رَسُولِ ٱللَّهِ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱمۡتَحَنَ ٱللَّهُ قُلُوبَهُمۡ لِلتَّقۡوَىٰۚ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَأَجۡرٌ عَظِيمٌ»** « کوم کسان چې د خدای د پیغمبر په وړاندي د غږېدلو په وخت کښې خپل غږونه ټیټوي، هغوی په حقیقت کښې همغه کسان دي چې الله یې زړونه د پرهېزګارۍ لپاره ازمویلي دي، د هغو لپاره ښننه او لوی اجر دی».
او ځیني نور د عامه آدابو څخه: د یو بی لاری انسان ته لارښونه ده، پدي معنی چې هغه ته په یو ښه توصیف سره لارښونه وکړي او یا یو څوک د هغه سره لارښونکي ولیږي، پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي: د لارو په سر د ناستی نه ډډه وکړئ، وویل شول : ای د الله رسوله ولي باید د لاري په سر کینه نو پداسي حال کې چې مونږ خبری کوو یعني کوم ضرر لرونکی کار نه ترسره کوو، پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل: که د ناچارۍ نه لاري په سر کیناستي نو د هغي حق اداء کړئ،وویل شو حق یي څه دی؟ وفرمایل: د سترګو ساتل د نامحرمو د لیدلو څخه، د نورو د ازار او زوروني نه لاس اخیستل، سلام ته ځواب ورکول، او په نیکیو باندی امر کول او د منکراتو څخه منعه کول او هغه انسان ته لارښونه چې لاره تري ورکه وي.

**اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم**

*************

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکی سره د هغه تابعداري کوي.

**ډيرو درنو مسلمانانو ورونو:**

ځيني نور عمومي آداب چې مسلمان بايد ځان په هغه سينګار کړي، يو لاچاره انسان فرياد ته رسيدل دي، اسلام دغه کار يو د لويو اعمالو او د غوره ترين نږديوالی الله تعالی لپآره ايښي ده، د ابي ذر رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: په هره ورځ چې لمر راوځي، د هر بني آدم په نفس باندي صدقه ده، وويل شو: ای د الله رسوله!مال د کومه کړو چې هره ورځه صدقه ورکړو؟ وفرمايل: بی له شکه د ښيګڼي دروازي ډيری دي: تسبيح، حمد، او تکبير ويل او امر په نيکيو او نهي د منکرو څخه ټول د خير کارونه او صدقه دي، همداسی د مضرو شيانو لری کول د لاری څخه ، کوڼ ته عوږ ايښودل، ړوند ته لارښودنه، هغه چاته لارښونه چې اړمند وي، هڅه کول او د هغه چا لوري ته تلل چې هغه مجبوره دی، د يو ضعيف انسنا نه د بار لري کول دا ټول د انسان د نفس صدقي دي.(صحيح ابن حبان).

او ځيني نوريي: د ناتوانه او معيوبو او هغه کسانو سره مرسته چې ځانګړي اړتياوي لري دي، ځکه په ټولينز ترون کي د غريب نه ډير د مالدارو ګټه ده ترڅو ټولنيز توازن په ژوند کې بر قراره شي، لکه څرنګه چې علي رضي الله عنه فرمايي: الله تعال د غريبو روزي په مالدارانو فرض کړی ده، نو هيڅکله غريب لوږي نه پاتی کيږي مګر په هغه وخت کي چې مالدار بخيلي وکړي، او الله تعالی پدغه موضوع کې د مالدارانو څخه پوښتنه کوي، نو الله تعالی هغه چاته نږدي دی چې زړونه يي مات

دی، او په هغه چا مهربان دی چې د هغه په بندګانو مهربان وي، الله تعالی هیڅ یو نیک او غوره کار بی ارزښته نه بولي هغه که نیکه خبره هم وي، پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمايي: هیڅکله کوم نیک کار کم مه ګڼه، هغه که خپل ورور سره په خلاص تندي لیدل هم وي همداسی فرمايي: آیا تاسو ته بغیر د ضعیفانو د مرستي نه روزي درکول کیږي؟، او الله تعالی د خپل بنده په مرسته کي وي تر هغه چې هغه د بل ورور سره په همکاري او مرسته کې وي.
او ځيني نور ددي جملي څخه: مشرانو ته احترام کول دي، نو باید کشران د مشرانو قدر او منزلت باندی پوه شي، او مشرانو ته لازمه ده ترڅو ماشومانو سره مهربانه ووسي او د هغو سره په نرمي او مهرباني چلند وکړي، پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمايي: کله چې مسلمان یو مشر ته احترام وکړي نو الله تعالی یو شخص ګماري چې هغه ته په لوی والي کې احترام وکړي، دغه آداب د اسلام د لوی والي د مهرباني تحمل عدل انصاف او بشریت ته د پاملرني د ښنو او ښنانو څخه دي، ځکه پیغمبر صلی الله علیه وسلم د مشرانو احترام او قران کریم حافظ او عادل حاکم د الله تعالی د لوی والي عظمت او احترام د ښنو څخه ګرځولي، لکه چې فرمايي: د مشر مسلمان، د قران د حافظ د عادل حاکم احترام کول د الله تعالی د جلال او عظمت د جملی څخه دي، همداسی فرمايي: څوک چې ماشوم سره مهربانه نه وي او زمونږ لوي ته احترام ونکړي او امر په معروف او د منکرو څخه نهي ونکړي زمونږ څخه ندي.
د اسلام د زغم او تحمل سم درک دا راپیژني چې د یو مشر د احترام لپآره دا شرط ندی چې هغه مسلمان وي، ځکه په حدیث کې روایت شوي چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم په یو یهودي مشر به يي صدقه کوله، همداسی حضرت عمر بن عبدالعزیز خپل والی ته په بصره کې لیکي؛ وګوره که ستا په ښار کې څوک د ذمه د اهلو څخه عمر يي ډیر شوی وي او ضعیفه

وي او نشي كولاى چي كار وكړي نو د مسلمانانو د بيت المال څخه ورکړه او د هغه اړتيا پوره کړه.
او ځيني نور د ټولني د حقوقو نه پخپل بچيانو دادى چې بايد د هغه ګټي او عمومی مصلحتونو ساتنه وكړي، كه مونږ د مثال په توګه د نفوس د ډيريدو او د وګړو د ډيريدو اوسيدونكو شمير په نظر کې ونيسو نو په دوو موضوع ګانو تاكيد كوو: اول: ځيني ځانته ګوري كه چيرته توانمند او مالداره وي، نو بايد پوه شي چې توانايي او مال يواځې مادي توانايي نده بلكي هم مادي هم تربيتي او هم معنوي توانايی او هر هغه څه ده چې د پاملرني او رعايت كول دي، همداسی هدف يواځې فردي توانايي نده بلكي د ډلو توانايي او د هيوادونو توانايی هم دی ترڅو وكولاي شي ښه او غوره خدمات ټولني ته وړاندي شي، ځكه كسان په يواځي ځان نشي كولاي خپل ټول اړتياوي ځان ته برابر كړي، نو پردي اساس بايد په هره برخه كي عملي او د هيوادونو امكانيات او حالت په نظر كې ونيول شي، ځكه د نفوس او د وګړو بی تنظيم ډيريدل يواځې پر اشخاصو او كرني اثر نه كوي بلكي ضررونه يي هغه هيوادونو ته هم شامليږي چې د كورنيو د تنظيم لپاره برنامي او د حل لاري نلري، ځكه اسانتيا او سختي يواځې د كورنيو د وګړو په مقياس نه سنجول كيږي بلكي بايد د هيوادونو عمومي حالات امكانات او توانايی په نظر کې ونيول شي.
دوهم: په واقعيت كې كم توانمند غوره دي د ډيرو ضعيفو څخه چې ناتوانه دي، ځكه بد او استثنايی حالات چې ځيني هيوادونه هغه سره لاس او ګريوان دي او نشي كولاي اساسي خدمتونه لكه طبي، او تعليمی او زيربناوي ټولني ته وړاندی كړي د بی نظم او بی ترتيب كورنيو له كبله دی، او هر عاقل انسان پوهيږي هركله چې كيفيت او كميت منځ كې تعارض واقع شي د كيفيت اړخ ته ترجيح وركول كيږي نه كميت ته ځكه كميت بی له كيفيته د هيڅ رنځ دوا نشي كيدلاي، دلته دی چې پدي پوهيږو لږ باكيفيته زر مرتبه غوره دی د ډير بی كيفيته او ضعيفو نه.

ځکه هغه ډېروالي چې د ناتواني، جهالت پرمختګ د تمدن څخه د شاته پاتې کېدو لامل کرځي د دولت په اوږو بوج وي او دولت په خپلو لږو امکاناتو نشي کولای چې ددغه مسئوليت له عهدي څخه ووځي، ځکه دا هغه زيادت دی چې د ضرر لامل ګرځي نه د ګټي.

اللهم اهدنا لأحسن الأخلاق ، لا يهدي لأحسنها إلا أنت ، واصرف عنا سيئها ، لا يصرف عنا سيئها إلا أنت ، واجعلنا من عبادك المخلصين.